سید عبید الله نادر

۲۰۲۲/۱۰/۱۴

# د بیدارۍ وږمې

د زړه په سـترګو ړندیدو نه، نه لـیدل ښه دي
له بې کیفــیته خـنـدا نه، ژړیـدل ښــــه دي

چې اشــــارو د زمـانې نه، عـبرت نه آوري
بیا له دا هســـې اوریــدو نه، کڼیدل ښــه دي

چې په درست عمر،د چا په درد کې دوا نشي
داسي حیــات او اوسیدو نه ،ورکیدل ښه دي

چې متانت خپل، په مقام او چوکۍ نه ســـاتي
داسي مقام نه خـــو له سره ، پرزیدل ښه دي

د ضدیت په خره سپاره به،تر څــو مونږه یو
مصلـــحتونو ته هم غاړه، ایښـــودل ښــه دي

د پرَدو له غلامۍ ، او بد شـــهرته څــــــــه
په خپل جونګړه کې عمرونه، کړیدل ښه دي

هغه بنیاد د مانۍ ، چې له شروع نه وي کوږ
د بې بنـــــیاده آبادۍ خو، نړیدل ښــــــه دي

هلته چې وي ، معـــــــنویاتو او د فـضل مقام
د معرفت وږمې له ځـانه خـــورول ښه دي

لویي ګـــذار کړو ، ذلت او نا پوهۍ کندې ته
له خپل غرور او تکبر نه ، کـوزیدل ښه دي

محبت او د اظهار تندۍ ، مخــــلوق له پاره
لکه غوټۍ په خیر هر چاته، غوړول ښه دي

چې یې وږمې د بیدارۍ،هر چمن کې نه وي
داسي ګـــلونو غـــوړیدو نه، رژیدل ښه دي

چې په کلام کې د شاعر، د وینتیا څه نه وي
داسي وینا او له لیــکلو، نه لیـــکل ښه دي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ